ماشومانو مقدس کتاب
وړاندې کونکے



بنهٔ بادشاه، او
بد بادشاه

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددګار: Bible for Children
www.M1914.org

©2023 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصۍ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

دا د منسی د پاره یوه د خفګان
ورځ وه. د هغۀ پلار، حزقیاه
بادشاه په دې وخت کښې مړ
شو. نو اوس د دولسو کالو په
عمر کښې منسی په یهوده کښې
د خدائ پاک د خلقو نوے بادشاه
وو. هغه وخت هغه نۀ پوهیدو.
خو منسی به تر پینځو پنځوستو
کالو پورې بادشاه وی. منسی ته
د یو ښۀ بادشاه جوړیدو د پاره د
خدائ پاک د مدد ضرورت وو.



خو منسی خدائ پاک هېر کړو او ګناه يې وکړه.
منسی د بتانو د عبادت د پاره ځايونه جوړ کړل. او
قربان ګاه يې جوړې کړې. تر دې پورې چې هغۀ
تراشلے شوی بتان هم جوړ کړل. او هغه يې د
خدائ په پاک او مقدس کور کښې کېښودل. خدائ
پاک د موسی په ذريعه فرمائيلی
وو، چې تاسو کښې دې يو کس
هم تراشلے شوی بتان
نۀ جوړوی، او مۀ
تاسو هغې ته سجده
کوئ، او مۀ د هغې
خدمت کوئ.

منسی جادوګران او غیبو علم لرونکو په شان عمل وکړو.
هغۀ ډېر خلق د خدائ پاک نه واړول. تر دې چې هغوئ
خپل بچی بتانو ته د قربانئ په طور باندې
وسوزول. د منسی دې
نافرمانئ خدائ پاک
ډېر په قهر او
غصه کړو.

کله چې د هغۀ خلق نافرمانی کوی، نو خدائ پاک هغوئ له
د سزا ورکولو اجازت ورکړی. منسی او هغه خلقو سره
څۀ کیږی چا چې په هغوئ باندې حکومت کولو خدائ پاک
په هغوئ د اسوریانو فوج په هغوئ باندې راولی. او منسی
یې په زنځیرونو باندې وټړلو
او بابل ته یې بوتلو.



په بابل کښې د مصیبتونو زغملو په
دوران کښې، منسی د خدائ پاک نه سوال
وکړو. هغۀ د خپل پلار نیکۀ خدائ پاک
په وړاندې باندې ډېره په عاجزئ سره
دعا وغوښتله. اوس به نوره د هغه
مړو بتانو نه دعا نۀ شی غوښتلے،
خو آیا هغه ژوندے خدائ پاک به
منسی له د دې دومره ګناهونو
کولو نه پس جواب ورکړی؟

آو بلکل! خدائ پاک د بادشاه دعا
واورېدله او هغه يې واپس خپل
تخت او په خپلو خلقو باندې د
بادشاهئ کولو د پاره يروشلم ته
راوستلو. بيا منسی په دې باندې
پوهه شو چې مالک خدائ دے.

منسی بادشاه یو نوے انسان وو. هغۀ د خدائ پاک د
مقدس کور هغه بتان لرې کړل، او هغۀ ټول څیزونه یې په
یروشلم کښې راجمع کړل او وې غورزول. هغۀ د خدائ
پاک د کور مرمت وکړو او د مالک خدائ ته یې د شکر
ګزارئ نذرانې پیش کړې.



بیا هغه خپلو خلقو له حکم ورکوی چې تاسو ټول د بنی اسرائیلو د مالک خدائ پاک خدمت او عبادت کوئ. په منسی کښې څۀ بدلون راغلو!



د منسی د مرګ نه پس د هغۀ زوئ امون د بت پرستیۍ په طرف باندې لاړو. خو هغۀ لکه د منسی په شان د خدائ پاک په وړاندې خپل ځان عاجز نۀ کړلو. او امون ډېر زیات ګناهونه وکړل. نو د هغۀ خدمت کوونکو هغه په کور کښې قتل کړو. هغۀ صرف دوه کاله بادشاهی وکړه.

ورپسې یوسیاه صرف د اتو کالو وو. هغۀ یو دپرش کاله بادشاهی وکړه. هغۀ به هغه څۀ کول څۀ چې د خدائ پاک په نظر کښې صحیح وو. هغۀ ټول د دروغو عبادت کوونکی او د دروغو معبودان تباه کړل. تر دې پورې چې یوسیاه ټول بتان ټوټې ټوټې کړل.

یوسیاه چې یو نېک بادشاه وو هغۀ د خدائ پاک کور د دې هر څۀ نه صفا کړو او د هغې مرمت يې وکړو. یو ورځ امام ته د موسی د شریعت کتاب ملاو شوو کوم چې ورله خدائ پاک ورکړے په کوم کښې چې د خدائ پاک حکمونه لیکلے شوی وو.

کله چې بادشاه د شریعت
هغه کلام واورېدو، نو هغۀ
خپلې جامې وشلولې. یوسیاه
ته معلومه وه چې د هغۀ
پلار نیکۀ د خدائ پاک په
حکمونو او تابعداری کښې
ناکامه شوی دی.

خُلده نومي يوه ښځه وه هغه د خدائ پاک پيغام يوسياه ته ورکوی. هغي ورته ووئيل چي خدائ پاک فرمائی چي زۀ به په دغه ځائ او د دغه ځائ په خلقو باندي دا ټول لعنتونه راولیږم کوم چي تاسو په دي کتاب کښي ولوستل. ځکه چي هغوئ زۀ رد کړے يم. خو يوسياه عاجز او فرمانبرداره وو، دا هر څۀ به د هغۀ تر مرګه پوري نۀ کيږی.

خدائ پاک د یوسیاه مدد وکړو چې هغه خپل خلق واپس
خدائ پاک ته راوګرځئ. یوه ورځ، کله چې یوسیاه په
جنګ کښې د خپل لښکر مشری کوله، نو یوسیاه د دشمن په
غشو باندې ډپر زیات زخمی شو.
د هغۀ نوکر هغه په ګادئ کښې
یروشلم ته یوړو چرته چې هغه
مړ شو. د هغۀ ټولو خلقو په
هغه باندې ماتم وکړو، او د
ښۀ بادشاه یوسیا په غم
کښې یې سندره ووئیله.



ډېر زر بادهی ختمه شوه. خو یوه
ورځ به بیا په بنی اسرائیلو باندې
یو بادشاه بادشاهی کوی. د هغۀ
نوم به د بادشاهانو بادشاه وی.
کله چې عیسی مسیح په اول
ځل راغلو، نو هغه رد کړے
شو او په سولی کړے شو.
کله چې عیسی مسیح دوباره
راشی نو هغه به صرف د
اسرائیل بادشاه نۀ وی، بلکې
د ټولې دنیا بادشاه به وی.

بنهٔ بادشاه، او بد بادشاه

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصهٔ

شته دے

دوېم تواریخ ۳۳ ـ ۳۶

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ـ"

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولې خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا ربښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲